(c) ketabton.com: The Digital Library

| ۷– د ښوونکي د تدریس فعالیتونه او د موخو زده کړه او ارزونه | د زده کوونکو د زده کړې فعالیتونه | وخت په دقیقو |
|---|---|---|
| – پر تختې د نوي لوست سرلیک ولیکئ.<br>– په پټه خوله د مطالعې سپارښتنه وکړئ.<br>– د نقشې په اړه پوښتنې طرحه کړئ.<br>– د نقشې له مخې نقشې توضیح کړئ.<br>– پر تختې باندې د لوست مهمې برخې ولیکئ.<br>– د نقشې نوی لوست، د نقشې چوکاټ او د نقشې کانتور، کچې او کرښې توضیح کړئ.<br>– ز ده کوونکي په ډلووویشئ او د هرې ډلې فعالیت وټاکئ.<br>– د زده کوونکو پوښتنې او ستونزې حل کړئ.<br>– پوښتنې طرحه او د لوست ارزونه وکړئ.<br>– له ټولګي بهر فعالیت توضیح کړئ. | – د نوي لوست سر لیک ته ګوري.<br>– نوی لوست په پټه خوله لولي.<br>– د نقشې په اړه نظر ښکاره کوي.<br>– نقشې ته پاملرنه کوي او دځپل محترم ښوونکي څرکندونې په غوراوري<br>– د لوست مهم ټکي یا داشت کوي.<br>– د ښوونکي څرګندونوته غوږ نیسي او غور ورباندې کوي.<br>– د ټولګي د ننه فعالیتونو او ډلو کې هڅوونکې برخه اخلي<br>– مهم ټکي او خپلې پوښتنې وایي.<br>– پوښتنوته ځوابونه ورکوي.<br>– له ټولګي د باندې فعالیتونه تر سره کوي. | ۳۵ دقیقې |

**۸– د لوست د متن پوښتنو ته ځوابونه:**

**۱–** په طبیعي نقشو کې لوړوالی د کانتور د کرښې په واسطه ښودل کیږي. او لوړې څوکې په تورو تیزو رنګه عددونو باندې لیکل کیږي.

**۲–** نقشه لاندینۍ مهمې نښې لري، لکه: د نقشې چوکاټ، د طول البلد او عرض البلد دایرې، د نقشې د کانتور اوکچې ځانګړي نښې او مقیاس.

**۳–** سمندرګي، سیندونه او لوی سمندرونه په طبیعي نقشو کې ښودل کیږي.

**۴–** طبیعي نقشې د ځمکې جوړښت، د غرونو او سمندرونو شتون ښايي. سیاسي نقشې، اداري تقسیمات، د هیوادونو سرحدات او د دوي پلازمیني ښیي.

**۵–** د هیوادونو پولې په سیاسي نقشه کې په نښه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹– د ښوونکي له پاره اضافي معلومات**

نقشه د ځمکې پر مخ د ښکارندو یو تصویر دی چې د اړتیا له امله په یوه ټاکلي مقیاس کوچنی شوي ده. نقشه بیلا بیل ډولونه لري، او جغرافیه پوهان د هر کار له پاره له ځانګړي نقشې څخه کار اخلي.

نقشې په کوچني او لوي مقیاس رسمولای شو.

اوس د جغرافیوي نقشو د برابرولو له پاره له هوایي او ځمکنیو انځورونو څخه کار اخلي. جغرافیه پوهان له نقشو څخه ډېر معلومات تر لاسه کوي او طبیعي ځایونه او د هغوی موقعیت، لکه: غر، سیند، ځنګل او دغه راز د انساني ښکارندو لکه: وداني، کروندې، لارې او پلونو دقیق ځای جوتوې.

په جغرافیه کې د هرې موضوع د ښو دلو له پاره، ځانګړي نقشه برابروي، د ساري په توګه په یوه سیمه کې نا اواری، په یوې سیمې د اورښت اندازه، د یوه هېواد لارې، د ښارونو او کلیو د نفوسو کچه په بېلا بیلو نقشو کې ښيي. هغه کتاب ته چې د نقشو مجموعه په کې جمع شوي وي (اطلس) وایي.

طبیعي نقشې له هغو نقشو څخه عبارت دي چې په هغو کې د ځمکې د مخ ټولې فزیکي ښکارندې، لکه: غرونه، دښتې، دریابونه، جهیلونه، کانونه او خاکناګانې رسمیږي. چې د توپو ګرافي نقشو او فزیکي نقشو په نامه سره یادېږي، په دې نقشو کې د ځمکې جوړښت په څرګنده توګه ښودل کیږي.

سیاسي نقشې هغه نقشې دي چې د هیوادونو سیاسي ویش، د هغوی سرحدي کرښې او د هماغو هیوادونو پلازمینې ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دویم لوست د تدریس لارښود پلان

**د تدریس وخت (یو درسي ساعت) ۴۵ دقیقې**

| د مطلبونو سرلیکونه | د مطلبونو شرح | |
|---|---|---|
| ۱– د لوست موضوع | **اقتصادي او مواصلاتي نقشې** | |
| ۲– زده کړه یز (پوهنیزې، مهارتي او ذهنیتي) موخې. | ز ده کوونکو به د لوست په پاي کې لاندې موخې تر لاسه کړي.<br>عمومي موخې:<br>– زده کوونکي به د اقتصادي او مواصلاتي نقشې او د هغې ګټې وپیژني<br>ځانګړې موخې:<br>– زده کوونکي به اقتصادي او مواصلاتي نقشو په ځانګړتیاوو پوه شي.<br>– زده کوونکي به د افغانستان مواصلاتي نقشه رسم کړاي شي.<br>– زده کوونکي به په اقتصادي نقشو کې له اصطلاحاتو او مفاهیمو سره بلد شي<br>– زده کوونکي به د اقتصادي نقشو له محتوا سره بلد شي.<br>– زده کوونکي به د اقتصادي نقشو د کارونې او مطالعې توان پیدا کړي.<br>– زده کوونکي به له اقتصادي او نورو نقشو سره مینه او علاقه پیدا کړي. | |
| ۳– دتدریس لارې | د نقشو توضیحي میتود، د پوښتنو او ځواب طرحه، د زده کوونکو په واسط د نقشو عملی رسمول، د خبرو اترو میتود، د نقشو پرتلیز میتود. | |
| ۴– د تدریس اړین توکي | په ټولګي کې د نقشې شتوالي، سلایډونه، تخته، تباشیر، پروجکټور، د نقشو ښودل. | |
| ۵– د ارزونې لارې | تحریري، شفاهي، د نقشې رسمول. | |
| ۶– په ټولکي کې زده کړه یز او تدریس فعالیتونه | سلام اچول، د ټولګي ترتیب، تنظیم او د حاضري اخیستل.<br>– د لوست سرلیک د تختې پر مخ ولیکې<br>– په ټولګي کې د زده کوونکو له نظره د اقتصادي نقشو یوې بیلګې ښودل<br>– په ټولګي کې اقتصادي نقشې تصنیف او ډلبندي کړي. | وخت په دقیقو |
| | هڅوونکي پوښتنه:<br>– آیا د اقتصادي او مواصلاتي نقشو په اړه معلومات لرئ؟ | ۱۰ دقیقې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| وخت په دقيقو | د زده کوونکو د زده کړې فعاليتونه | ۷- د ښوونکي د تدريس فعاليتونه زده کړه يز ارزونه او مفهوم |
|---|---|---|
| ۳۵دقيقې | - زده کوونکي د ښوونکي څرګندونو ته ژوره پاملرنه کوي.<br>- زده کوونکي د اقتصادي نقشو د ځانګړتياوو په هکله د ښوونکي سره جرو بحث کوي.<br>- د نقشې بيلګې په چوپه خوله لولي او پر محتوايي ځانونه پوهوي<br>- په هغو ځايونو چې نه پوهيږي له ښوونکي څخه پوښتنه کوي.<br>- د خپل لوست پايله بيا تکراروي<br>- د خپل ښوونکي پوښتنو ته په ځير سره ځوابونه ورکوي. | - د اقتصادي نقشو په هکله معلومات ورکړئ.<br>- د اقتصادي نقشو پر ځانګړتيا او ارزښت به خبرې وکړئ.<br>- د طبيعي زيرمو نقشې توضيح کړئ.<br>- د قيمتي ډبرو نقشې روښانه کړئ.<br>- د نجيبه فلزاتو نقشې شرحه کړئ.<br>- د هوايي او سمندري مواصلاتي کرښو نقشې توضيح کړئ.<br>- زده کوونکي په دو ډلو کې وويشل شي او د سوالونو په طرحه کولو سره د لوست ارزونه وکړي.<br>- له ټولګي بهر فعاليت توضيح کړئ. |

**۸- د لوست د متن پوښتنو ته ځواب:**

۱- په اقتصادي نقشو کې د فلزاتو طبيعي زيرمي، د سون توکي، نفت، ګاز، د کرنيزو پيداوارو، صادرات او واردات ځای په ځاي کيږي.

۲- په اقتصادي نقشو کې کرنيزو پيداوارو ته ځاي ورکول کيږي، ځکه چې ارتزاقي توکې د اقتصاد مهم رکن بلل کيږي.

۳- د لويو لارو په مقدماتي نقشو کې، لويو لارو، هوايي او سمندري کرښو، تر مينلونو او ستيشنونو ته ځاي ورکول کيږي.

۴- د ځمکني ليږد راليږد سړکونو، د ريل ګاډو او د ميترو له کرښو څخه عبارت دي، خو د الوتکو هوايي کرښې په هوايي کوريدرونو(هوايي دهليزونه) کې وړاندې کيږي.

**۹- د ښوونکي لپاره اضافي معلومات**

د مضمون ښوونکي بايد د نړۍ او هيواد په ټولو اقتصادي توکو باندې وپوهيږي د مالوچو د توليد او نورو صنعتي توليداتو په اړوند بايد معلومات ولري، په صنعتي محصولاتو او پيداوارو، لکه: ګني او چغندر باندې وپوهيږي، چې په کوم ځاي کې کول کيږي او په کومه سيمه کې د قندو يا بورې صنعتي فابريکه شتون لري، د فولادو ډير ستر توليدوونکي او ځينې الکترونيکي سامان او وسايل وپيژنې، واردات، صادرات او مهم اقتصادي توليدات په ګرافونو او چارتونو کې لست او وښيي.

ګرافونه او د صنعتي توليداتو او کرنيزو پيداوارو کچه او احصاييه راټوله کړي په ټولګي کې زده کوونکو ته نوي او تازه تر څو چې د اقتصادي نقشې پر مخ د توليداتو کچه د ورداتو او صادراتو اندازه وښيي.

د لارو، سرکونو نقشې او د ترافيکو د تګ راتګ کچه معلومه کړاي شي، د ښاري ترافيکو نقشې له لويو لارو او حلقوي سړکونو څخه بيلې کړاي شي.

